مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۴/۰۲/۲۷

# د نیمې شپې دعا

د نـوي کـال اول اذانـه یـاره!
لږ خو رانوی شه ایمانه یاره!
لږ پر موږ و رحمیږه ځمکې مورې!
لږ مهربانه شه اسمانه یاره!

زما پښې لوڅې دي نهـر راوتي
اغزیه! پام چې پښـې یې خوږې نه کړې
واورې په یخ باندې یې و نه وهې!
لار کې یې ورک نه کړې تـوپانه یاره!

لوږې نهر یې راته و نـه وژنې!
تندې په جل یې راته و نه وژنې!
ډېر دي بې کسه طبیعته وروره!
چې بې اجل یې راته و نه وژنې

د ټول جهان دي میره ایزه ورونه
هر څوک ځان ساتي له افغانه یاره!
ته یې په هر ځای کې ساتنه وکړې
زمـا خالق زمـا سبحـانـه یـاره!

سپی مې چې هم مري خفه کېږمه پرې
ته خو لا ډېر خوږ یې انسانه یـاره!
ای د بـاور د سجدې خـاورې یـارې
خـدای دې شـه مـل افغانستانه یاره!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ